سلطان جان کلیوال ۲۰۱۸/۱۱/۱۱

# بی قـــدري!

یادونه [د کوم دوست په پاڼه کی می یو دری (فارسی) بیت ولید خوښ می شو، پښتو می کړ، یومی بل ورسره جوړ کړ، څلوریځه شوه، دوستانو خوښه کړه. یوه دوست راته د همدی طرز لاندی د غزل په بڼه د شعر د تکمیل سپارښتنه وکړه. دادی څه ګډی وډی می سره را یوځای کړی، ویی ګوری. هیله من یم چی خوښ مو شی. په درنه مینه. کلیوال]

«لس او شل بچي یـو پلار ســره آرام وی
خــو یـو پــلار شــلو بچـو کی آرام نه شو»
زوی د ښځی په نشه کی هومـره مست شو
چی د مور د ســاه ختـو تـه یـی پام نه شو
نیا نیکه لـه لمسی هیرشوو چی را لوی شو
هیڅ خبر یی د ژوندون په ما ښام نه شو
د مـشـرانـو درنـاوې تـر شـتـمـنی وی
بی شـتو مشـر وړ د کـوم احتـرام نه شو
مـعـزز وی چی د واک پـه ګدی ناست وی
بـی قـدرتـه پـاچـا لـوړ تـر غلام نه شـو
کـوم شاګرد چی د استاد حرمت ونکـړو
مُـقـتـدی شـو د تـول عُمر امام نه شـو
خبردار چی کار په کار سره خلاصیږی
مونږ و نکړو چی تـر اوسه تمام نه شـو
ډک جامـونه هر محفل کی ورته ست شول
خو لایق می کلیوال د هیـڅ جام نه شـو

تورنتو ـ کانادا نومبر/۲۰۱۸/۹